لیکوال: هانس کریستن اندرسن
ژباړونکی: آصف بهاند

۲۰۱۷/۰۹/۲۳

# بلبل

## (Nattergalen)
## H. C. Andersen

### دریمه برخه



خو یوه ورځ ماښام مهال کوکي بلبل سندرې ویلې، امپراتور پر خپل تخت اوږد غځیدلی او غوږ یې نیولی و چې نا څاپه د «ترق» غږ راغی، څه شی مات شول، ټولې ګرارۍ سره تاو او ګډې وډې شوې او کوکي بلبل له کاره ولوید.
امپراتور له تخت نه خیز کړل او خپل ډاکتر یې راوغوښت، خو هغه به څه کړي وای. بیا یې د امپراتور ساعت جوړونکی را وغوښت. ساعت جوړونکي په سختی سره کوکي مرغۍ جوړه کړه او وروسته له هغه نه یې و ویل چې ګرارۍ یې سولیدلې دي او نوې ګرارۍ نه ورسره جوړیږي او نه شي کولای دا الوتونکی کوک کړي.
لویه ناورین و! دوی اوس کولای شول په کال کې یو ځل الوتونکی کوک کړي، له دې سره یې هم غږ سم نه جګیده، خو د سلطنتي ارکستر مشر، د ستونزمنو تورو په کارولو سره یوه لنډه وینا وکړه او د وینا په ترڅ کې و ویل چې کوکي بلبل لکه تل ښه دی او ښه به وي.
پنځه کاله تیر شول او نا څاپه په هیواد کې یو ستر ویر رامنځ ته شو، امپراتور ناروغه شو. سره له دې چې هغه ټولو ته ګران و، خو داسې ویل کیدل چې هغه به نور ژوندی پاتې نه شي. په همدې دلیل نوی امپراتور وټاکل شو. خلکو به په لارو کې د دربار له رئیس نه د امپراتور د حال پوښتنه کوله، هغه به یوازې سر ښوراوه او ویل به یې:


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولئ

«پ!»
امپراتور الوتی رنګ، سوړ پر خپل پرتمین تخت غځېدلی و. ټولو درباریانو فکر کاوه چې هغه مړ دی. هر یوه بېره کوله څو نوي امپراتور ته ښه راغلاست ووایي او سلام ورته وکړي. د دربار خدمتګارانله مانۍ نه راووتلځړ دباندې د دې موضوع په باب وغږیږي. درباري میرمنې سره ناستې وې او قهوه یې چیکل. د مانۍ د ټولو کوټو او لارو غولي یې پوښلي وو، څو د چا د پښو غږ وانوریدل شي، خکه ټوله مانۍ کې بېخي چوپتیا وه.
خو امپراتور تر اوسه نه و مړ، الوتی رنګ او پرته له دې چې وخوځیږي، پر خپل پرتمین تخت باندې پروت و او له پاسه پرې بخملي پردې له زرینو درندو ریښکیو سره راځړېدې. هلته لوړه یوه کړکۍ خلاصه وه او له هغې نه د سپوږمۍ رڼا پر امپراتور او کوکي الوتونکي رالویدلې وه.
خوارکوټي امپراتور په سختۍ سره سا ایستله، داسې یې ګڼله چې پر ټټر یې کوم شی درانه، درانه کیږي. کله یې چې خپلې سترګې پرانستې، وې لیدل چې مرګ یې پر سینه باندې ناست دی او د امپراتور زرین تاج یې پر سر، طلایي توره یې په یوه لاس او سلطنتي نشان یې په بل لاس کې نیولی دی. د ده د تخت په شاو خوا کې چې کومې بخملي پردې راځړېدلې، د هغو له هر چین نه ده ته عجیبو څېرو ور کتل. د هغو څېرو په ډله کې یې ځینې په ډارونکي بڼه بدرنګه وې او ځینې بیا ملایمې او مهربانه ښکارېدې. هغوی د هغو ښو او بدو کارونو بېلګې وې چې امپراتو د ژوند په اوږدو کې تر سره کړي وو. اوس یې مرګ پر سینه باندې ناست و.
یوه یې ورو ورته و ویل:
«کولای شې در په یاد یې کړې؟»
بیا بل یو تن تکرار کړه:
«کولای شې در په یاد یې کړې؟»
ډېر ځلې دا ورته و ویل، تر دې پورې چې له تندي نه یې خولې را تویې شولې. امپراتور چیغې کړې:
«نه، زه هېڅکله نه پوهیدم!»
او وې ویل: «موسیقي، موسیقي! لوی چینایي زنګ وکړنګوئ، څو دا خبرې چې دوی کوي، وایې نه ورم.
خو څېرو خپلې خبرې غځولې او مرګ لکه د یو رېښتني چینایي په څېر، د هغوی له هرې کلمې سره سر خوځاوه.
امپراتور هیله وکړه:
«وړوکیه زرینه بلبله ته سندرې ووایه! ما تا ته سره زر او قیمتي ګاڼې درکړې، ما په خپلو لاسونو خپلې زرینې څپلکې ستا په غاړه وځړولې، غاړې وکړه، هیله کوم، سندرې ووایه!»
خو کوکي بلبل غلی و، څکه څوک نه و چې هغه کوک کړي، نو څکه یې سندرې نه شوې ویلای. مرګ د خپلو سترګو له تشو غوچو سوریو څخه امپراتور ته کتل. ډېره ډارونکي چوپتیا حاکمه وه، چې ناڅاپه یو ډېر ښکلي غږ د چوپتیا پرده وڅیرله. دا د ژوندي بلبل غږ و چې د امپراتور له ناروغتیا نه په خبرېدو سره راغلی و او د کړکۍ په مخ کې پر څانګه ناست او غاړې یې کولې، خو امپراتور ته امید او آرامتیا ورکړي. بلبل چې څومره غاړې کولې، په پردو کې نغښتي څېرې به ضعیفېدې او تتېدې. د امپراتور په ضعیف وجود کې وینه په تېزۍ وخوځیده. مرګ هم د بلبل غږ ته غوږ ونیو او وې ویل:
«وړوکیه بلبله، هیله ده چې سندرې دې وغځوې!»
بلبل و ویل:
«کولای شې ما ته زرینه توره راکړې؟ کولای شې ما ته سلطنتي نشان راکړې؟ کولای شې ما ته د امپراتور تاج راکړې؟»
مرګ د بلبل د غږ په بدل کې خپل غنایم یو په یو هغه ته ورکړل. بیا بلبل د کلیسا د شاوخوا د چوپتیا په باره کې سندرې و ویلې چیرې چې د انګورو سپین ګلان را غوړیږي، هلته چې د اکاکیا خوشبویه ونې ولاړې دي، هلته چې چمن د ویرکونکو په اوښکو زرغون شوی. د مرګ زړه د خپل بڼ له پاره دومرن په تنګ شو چې د یوې سړې او سپینې سپوږمۍ په څېر له کړکۍ نه دباندې والوت.
امپراتور وویا:
«مننه، مننه! ته اسماني الوتونکی، زه تا پیژنم! ته مې سره له دې چې له خپل هیواد او امپراتورۍ څخه وایستې، خو تا شیطاني څېرې زما د تخت له شاو خوا څخه او مرګ دې زما له زړه څخه لرې کړ. زه باید د دې په بدل کې څه ډالۍ درکړم؟»
بلبل و ویل:
« تا ما ته ډالۍ راکړې! ما چې لومړی ځل تاسو ته سندرې ویلې، ما ستاسو د سترګو اوښکې تر لاسه کړې، هغه څه چې هیڅکله به یې هیر نه کړم. هغه اوښکې داسې ګاڼې دي چې د سندرغاړي زړه تودوي، خو ته ویده شه چې بیرته تازه او ځواکمن شې، زه به غاړې درته کوم.»


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په څیر و لولئ

بلبل سندرې بللې او امپراتور په خواږه ويده شو، آرامه او ځواک هستونکی خوب. لمر له کړکۍ نه کوټې ته راالويدلی و چې امپراتو روغ رمټ له خوبه راپاڅيده. يو چوپړ هم بيرته نه و راغلی، ځکه هغوی فکر کاوه چې امپراتور مړ دی، خو بلبل هلته ناست و او سندرې يې ويلې.
امپراتور وويل:
«ته بايد تل له ما سره پاتې شې، هر کله دې چې زړه وغوښتل، سندرې و وايه. زه به کوکي الوتونکی داسې مات کړم چې زر ټوټې شي.»
بلبل وويل:
«نه، دا کار مه کوه! کوکي الوتونکي هغسې چې کولای شول، سندرې يې وويلې. لکه پخوا يې وساته. زه نه شم کولای په ماڼۍ کې ځاله جوړه کړم او دلته ژوند وکړم، اجازه راکړئ چې هر کله مې زړه وغوښتل، راشم، ماښامي به د کړکۍ په مخ کې د ونې پر څانگه کينم او سندرې درته ووايم تر څو تا خوښ او له ښو سوچونو مالامال کړم. زه به د هغو په باب سندرې ووايم چې نيکمرغه دي او د هغو په هکله چې رنځيږي، زه به د هغو ښيگڼو او بدگڼو په باب سندرې ووايم چې په پټه يې ستا شا و خوا نيولې ده،
سندرې به درته ووايم، ځکه چې يو وړوکی الوتونکی لرې لرې ځايو ته الوزي او د خوارو کب نيونکو او کليوالو جونگړو ته ورځي چې ستا له ماڼۍ او دربار نه لرې پراته دي. ستا له تلج نه، زه ستا له تاج نه ستا زړه سره ډيره مينه کوم، سره له دې هم داسې يې گڼم چې تاج يو مقدس عطر لري! زه به راشم! زه به تا ته سندې ووايم! ته يوازې يوه وعده له ما سره وکړه!»
امپراتور چې خپلې جامې خپله اغوستې وې، خپله زرينه توره يې له لاستې نيولې وه، د خپل زړه پر سر يې کيښکوده، وې ويل:
«هره وعده چې وايې، در سره وبه يې کړم!»
بلبل وويل:

«له تا نه غواړم چې هيڅ چا ته و نه وايې چې ته يو وړوکی الوتونکی لرې، چې هر څه تا ته وايي، داسې به ډيره ښه وي!»
د دې تورو له ويلو نه وروسته وړوکی الوتونکی لاړ.
چوپړکونکي کوټې ته را ننوتل تر څو خپل مړ امپراتور وگوري، خو هغه وخت هک پک پاتې شول چې امپراتور ورته وويل:

«سهار په خير!»

پای

منبع:
H.C.Andersen Eventyr,2,fra s.149-170,Odnsa,Denmark,1994.


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينگه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې ښې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ